امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۲۱ الی ۲۶ میزان ۱۴۰۳

شماره هفتاد و هشتم

## له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او د رازی د پراختیایي او ټولنیزې موسسې RSDO ترمنځ د همکارۍ هوکړه‌لیک لاسلیک شو



له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، او د رازی موسسې RSDO د همغږۍ مسؤل محترم عبدالناصر پویا ترمنځ د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۱۳ نېټه لیدنه وشوه او د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د دغه هوکړه لیک د لاسلیک په پروګرام کې له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي وویل: موږ هرې موسسې ته چې د هیواد په هره برخه کې کار کوی ملاتړ یې کوو او د هغوی کارونه په ډېر لنډ وخت کې ورخلاصوو...

ادامه در صفحه۲

## په بامیان ولایت کې د طبیعی پېښو له امله د شهیدانو له ورثه سره نغدی مرستې ترسره شوې



د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت سیغان، کهمرد، ورس، پنجاب او یکاولنګ ولسوالیو کې د بېلابېلو طبیعی پېښو له امله د 11 شهیدانو ورثه ته نغدی مرستې وویشلې...

ادامه در صفحه ۳

## د بدخشان په یاوان ولسوالۍ کې د غره ښوېدو له امله د شهیدانو ورثه سره نغدی مرستې ترسره شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د وړاندیز او د ا.ا.ا د ریاست الوزرا عالی مقام د حکم پر بنسټ, د بدخشان ولایت یاوان ولسوالۍکې د غره ښویدنې له امله د 6 شهیدانو ورثه ته 600 زره افغانۍ مرستې وویشل شوې...

ادامه در صفحه۳

## سمنګان او جوزجان ولایتونو ته خوراکی مرستې ولېږدول شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مشرتابه د لارښوونې پر بنسټ، تېره ورځ، د احتمالی پېښو له امله زیانمنو ته د رسېدنې په موخه خوراکی مرستې د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او د رازی د پراختیایی او ټولنیزې موسسې RSDO ترمنځ د همکارۍ هوکړه‌لیک لاسلیک شو



له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، او د رازی موسسې RSDO د همغږۍ مسؤل محترم عبدالناصر پویا ترمنځ د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۱۳ نېټه لیدنه وشوه او د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د دغه هوکړه لیک د لاسلیک په پروګرام کې له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی وویل: موږ هرې موسسې ته چې د هیواد په هره برخه کې کار کوی ملاتړ یې کوو او د هغوی کارونه په ډېر لنډ وخت کې ورخلاصوو.

ورپسې محترم عبدالناصر پویا، د رازی موسسې RSDO د همغږۍ مسؤل وویل: رازی موسسه له ۱۳۷۸ کال راهیسې په کندهار ، هرات ، بادغیس اوغور ولایتونو کې په بېلابېلو برخو کې خپل فعالیتونه ترسره کوی.

ښاغلی پویا زیاته کړه چې د ۳۸۳،۴۴۹ امریکایی ډالرو په ارزښت د هوکړه‌لیک پر بنسټ، په زنده‌جان، کشک‌کهنه، ګلران، کوه‌سان ولسوالیو او د هرات ښار په بېلابېلو ناحیو کې به موږ ۱۸۳،۰۰۰ نفرو ته د خوراکی او نغدو پیسو مرستې وویشو.

هغه څرګنده کړه چې سروې به د رازی موسسې لخوا ترسره کېږی، او څارنه به یې د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د یادې موسسې له لوری ترسره کېږی او د دې مرستو پلی کوونکی د خوړو نړیوال سازمان دی. دا مرستې په څلورو ولسوالیو کې چې هرې کورنۍ ته به ۵۰ کیلو اوړه، ۶.۵ کیلو دال نخود، ۴.۵ لیتره غوړی، نیم کیلو مالګه او د ماشومانو او میندو لپاره تغذیوی مواد ورکول کېږی. همدارنګه، په هرات ښار کې د ۱۳،۰۹۶ کورنیو لپاره به هرې کورنۍ ته د شپږو میاشتو لپاره ۲۹۰۰ افغانۍ نغدی مرسته وویشل شی.

په پای کې د دواړو لورو ترمنځ د دوه اړخیزه همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.

## سمنګان او جوزجان ولایتونو ته خوراکی مرستې ولېږدول شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مشرتابه د لارښوونې پر بنسټ، تېره ورځ، د احتمالی پېښو له امله زیانمنو ته د رسېدنې په موخه خوراکی مرستې د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ګدامونو څخه سمنګان او جوزجان ولایتونو ته ولېږدول شوې.

د یادونې وړ ده چې، جوزجان ولایت ته ۳۰۰ بورۍ اوړه او ۳۰۰ بورۍ وریجې او سمنګان ولایت ته ۵۰۰ بورۍ اوړه ولېږدول شول او د یادو ولایاتو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو په ګدامونو کې ځای پر ځای شول.

## د بدخشان په یاوان ولسوالۍ کې د غره ښوېدو له امله د شهیدانو ورثه سره نغدی مرستې ترسره شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د وړاندیز او د ا.ا.ا د ریاست الوزرا عالی مقام د حکم پر بنسټ, د بدخشان ولایت یاوان ولسوالۍ کې د غره ښوېدنې له امله د 6 شهیدانو ورثه ته ۶۰۰ زره افغانۍ مرستې ووېشل شوې.

دغه مرستې د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مشر محترم مولوی محمد اکرم اکبری لخوا د ټاکل شوی پلاوی په شتون کې, د هر شهید ورثه ۱۰۰ زره افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

## په بامیان ولایت کې د طبیعی پېښو له امله د شهیدانو له ورثه سره نغدی مرستې ترسره شوې



د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت سیغان، کهمرد، ورس، پنجاب او یکاولنګ ولسوالیو کې د بېلابېلو طبیعي پېښو له امله د ۱۱ شهیدانو ورثه ته نغدی مرستې ووېشلې.

دا مرستې د بامیان والی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ مشر او د یاد ولایت د علماوو شورا د مشر په شتون کې، د هر شهید ورثه ته ۴۰۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## په میدان وردګ ولایت کې ۳۶۰ زیانمنو کورنیو روغتیایی مرستې ترلاسه کړې




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یونیسیف موسسې سره په همکاری، د یاد ولایت بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۳۶۰ کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته روغتیایی مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۱ روغتیایی کېټ چې ۱۳ قلمه توکی پکې شامل و، ۱ کارټن د لاس منځلو صابون او د ښځاک اوبو لپاره د مېکروب ضد درمل ترلاسه کړل.

## ۵۶ زیانمنو کورنیو ته په کونړ ولایت کې نغدی مرستې ووېشل شوې




د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM موسسې سره په همکارۍ، د یاد ولایت نرنګ ولسوالۍ اړوند ۵۶ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د یاد ریاست مسؤلینو او د موسسې استازی په شتون کې نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۹۰۰۰ افغانۍ او له یادې جملې ۹ کورنیو ته چې کورونه يې په بشپړډول ویجاړ شوې و، هرې کورنۍ ته ۱ باب خیمه هم ووېشل شوه.

## په تخار ولایت کې ۳۷ زیانمنو او بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشل شوې



د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت نمک آب ولسوالۍ اړوند ۳۷ زیانمنو او بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

دا مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ODSAD موسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ له سروې وروسته د نمک آب ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې هرې کورنۍ ته ۱۰۷۸۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## ۵۰ زیانمنو کورنیو سره په لغمان ولایت کې غیرخوراکی مرستې ترسره شوې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د WFP.N- RC.SCI موسسو سره په همکارۍ، د یاد ولایت اړوند ۵۰ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د یاد ریاست مشر محترم قاری خیر محمد غازی او د موسسو استازی په شتون کې غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۱ هایجن کېټ ترلاسه کړ.

## په کونړ ولایت کې ۱۵۰ زیانمنو کورنیو خوراکي او غیرخوراکي مرستې ترلاسه کړې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې د یاد ریاست مشر محترم الحاج قاري ثابت الله صدیقي او اړونده مسؤلینو په شتون کې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې او ۴ تختې کمپلې ووېشل شوې.

## ۴۰۸ زره او ۸۰۰ افغانۍ ۱۴۶ بېوزله کورنیو ته په ننګرهار ولایت کې ووېشل شوې



د IRC موسسې د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همکارۍ، د یاد ولایت سره رود ولسوالۍ اړوند ۱۴۶ بېوزله کورنیو ته د لومړی قسط ۴۰۸ زره او ۸۰۰ افغانۍ ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ۲۸۰۰ افغانۍ ترلاسه کړې او په راتلونکې به دغه ډول نورې مرستې هم ترسره شي.

## په لغمان ولایت کې ۳۸ زیانمنې کورنۍ له خوراکي مرستو برخه منې شوې



د WFP موسسې د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همکارۍ، ۳۸ کورنیو ته چې د یاد ولایت مرکز مهترلام او الینګار ولسوالۍ کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ هرې کورنۍ ته له سروې وروسته اوړه، غوړي، دالنخود، حلوا او بسکوټ ووېشل شول.

# ۴۳ زیانمنو کورنیو سره په ننګرهار ولایت کې خوراکی مرستې ترسره شوې



د WFP موسسې د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همکارۍ, د یاد ولایت حصارک, سپین غر او غنی خېل ولسوالیو اړوند ۴۳ کورنیو ته چې د طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوې وې, له سروې وروسته خوراکی مرستې ووېشلې.
د مرستو د وېش په لړۍ کې هرې کورنۍ ۱۰۰ کیلو اوړه, ۹.۱ کیلو غوړي, ۱۲.۵ کیلو دالنخود, ۱ کیلو مالګه, تغذیوی حلوا او بسکوټ ترلاسه کړل.

# په کونړ ولایت کې ۹۷ زیانمنو کورنیو ته د خوراکی مرستو وېش

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د WFP په مالی ملاتړ او د RRDPO موسسې په همکارۍ، د یاد ولایت بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۹۷ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، او د کره سروې په پایله کې مستحقې پېژندل شوې وې، د یاد ریاست مشر محترم الحاج قاری ثابت الله صدیقی او د موسسې استازی په شتون کې د دوهم قسط خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دالنخود، ۱ کیلو مالګه او انرژی لرونکی چاکلېټ ووېشل شوې.




# په سمنګان ولایت کې زیانمنو ته خوراکی مرستې ووېشل شوې

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د سېلابونو له امله ۲۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو وریجې، ۵ لیټره غوړي، یوه بورۍ مکرونی او یو کارټن مګی آش د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د مشر په شتون کې ووېشل شوې.



## په بامیان ولایت کې د اورلګېدنې له امله ۴۶ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشل شوې




د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست، ۴۶ کورنیو ته چې د اورلګېدنې له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

د یادونې وړ ده چې، هرې کورنی ته ۲ بوری ۵۰ کیلویی اوړه، یوه بوری غنم، یوه روغتیایی کڅوړه، یو کارټن صابون او د ماشومانې جامې ووېشل شوې.

## اقدامات ضروری در هنگام آتش سوزی

**پیام ما:**

۱ محیط آتش سوزی را به سرعت ترک نمایید
۲ اگر شرایط امن است به دیگران کمک کنید
۳ زنگ خطر را به صدا در بیاورید
۴ هر چی عاجل به اطفائیه تماس بگیرید